نیټه: ۵/حمل/۱۳۹۷

خبري اعلامیه

**د بیرنی خپراوي لپاره**

د انټرنیټي بستو بیې راټیټې شوې!

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له ظرفیتونو څخه د اغیز لرونکي ګټې اخیستنې او د انټر نیټي بستو د قیمتونو راټیټولو په موخه د اقتصاد عالي شورا ته طرحه وړاندې کړه، چې د اقتصاد عالي شورا له تائید وروسته د انټرنیټي بستو په نرخونو کې د پام وړ بدلون راغی.
دا دې د افغان ټلیکام مخابراتي شرکت د سلام د 3G په انټر نیټي بستو کې ۱۰٪ سلنه ټیټوالی راغی چې د نورو مخابراتي شبکو په نسبت شل سلنه ټیټوالی ښیي. همدارنګه د افغان ټلیکام په سیم لرونکو (DSL) انټر نیټي بستو کې کابو ۳۷،۵۰٪ سلنه تخفیف رامنځ ته شو. دغه تخفیفونه د ۱۳۹۷ لمریز کال د وري د لومړۍ څخه د تطبیق وړدي.

د سلام 3G بستې

| شمیره | بسته | اوسنی بیه | د ۱۰٪ تخفیف څخه وروسته بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | 250 MB | 48 | 43 |
| ۲ | 1 GB | 160 | 144 |
| ۳ | 3 GB | 320 | 288 |
| ۴ | 5 GB | 480 | 432 |
| ۵ | 10 GB | 720 | 648 |

د افغان ټیلي کام د سیمداره بستې (DSL)

| بندویت/ سرعت | حالت | اوسنی میاشتنی بیه | د تخفیف نه وروسته بیه |
|---|---|---|---|
| 256 Kbps | نا محدود | 800 | 500 |
| 512 kbps | نا محدود | 1600 | 1000 |
| 1024 kbps | نا محدود | 3200 | 2000 |
| 2048 kbps | نا محدود | 6400 | 4000 |
| 4096 kbps | نا محدود | 12800 | 8000 |
| قیمت 1 mbps به شکل اختصاصی آن مبلغ ۱۲۰۰۰ افغاني در ماه است، قیمت با تخفیف آن ۸۰۰۰ افغانی است | | | |

تحصیلي ادارو ته ۴۰ سلنه تخفیف په نظر کې نیول شوی.

په عین حال کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د هغو شرکتونو او انټرنیټي خدمتونو وړاندې کوونکو ته په مشروط ډول ۲۰٪ سلنه تخفیف په نظر کې نیولی چې نوموړی تخفیف مستقیما د یادو شرکتونو له خوا مشتریانو ته ورکړل شي.

د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوجۍ وزارت په دې هڅه کې دی چې په تدريجي ډول د انټرنيټ قيمتونه راټيټ ، کيفيت بهتر او انټرنيټي پوښښ ته پراختيا ورکړي.

په درنښت

د نورو معلوماتو لپاره لاندې آدرس سره اړيکه ټينګه کړئ.